# د می اوله نیټه

د مى اوله نيټه د کارګرانو نړيواله ورځ ده.دا  ورځ دواړه د مبارزې ورځ او دجشن ورځ ده چيرې چې کارګران لاريون کوي او مهمي مسلي څرګندوي او د کارګر غورځنګ ارزښتونه روښانه کوي.



*Berlin. Foto: Sergey Kohl, Shutterstock*




*London. Foto: Londisland, Shutterstock*



*Berlin. Sergey Kohl, Shutterstock*


هرکال تقريباً د اوسنی نړی اکثريت برخه او  هيوادونه د ځانګړو پروګرامونو سره د دې ورځې لمانځنه او لاريون کوي. په زياتره هيوادونو کې دغه ورځ عامه رسمي رخصتي ګنل کيږي. ددې ورځې ترشا، د حقونو لپاره اوږده مبارزه ده چې موږ يې نن ورځ په پام کې نيسو.

## د دمی اولیه نیټه تاریخچه

د 1800 ميلادي کال کې د صنعتي انقلاب د يوې برخې په توګه ، په ډيری هيوادونو کې ډيری فابريکې وده کړې. توکي په لوی مقدار کې توليد شوي. خلک ښارونو ته تللي ترڅو په فابريکو کې کار وکړي. يوکاري ورځ له معمولی ورځ په پرتله چې کارګران عادت درلوده ډير اوږد وو، او په ډيری ځايونو کې د کار شرايط خورا ښه نه و. ورو ورو کارګران د خپلو حقونو له پاره غږ پورته کوي او دمبارزې لپاره ځانونه د کارګرانو اتحاديو کې تنظيموي.



*New York 1912. Foto: Everett Historical, Shutterstock*




*Kilde:Flickr*

په 1889 ميلادي کال کې په پاريس کې د کارګرانو نړيوالي غونډې کې، پريکړه وشوه چې  د کار ساعت (۸) ساعتونو ته راټيټ شي. همدارنګه پريکړه وشوه چې د می اوله نيټه بايد د کارګرانو ورځ وي. دا  د کارګرانو غورځنګ پورې اړه لري چې په هر هيواد کې د کارګر ورځ ښکله ولمانځل شي .

## په ناروې کې د مې اوله نيټه

په 1890ميلادی کال کې، د لومړي ځل لپاره، په ناروې کې د کارګرانو غورځنګ د مې اوله نيټه د خپل د مبارزې نړيوالې ورځ او دجشن ورځ په توګه ومانه. دغه ورځ په ځو ښارونو کې ولمانځل شوه، او په پلازمينه کې چې پدغه وخت کې کريستيانيا نوميده، لاريون تنظيم شوي وو. ډيرى خلک په لاريون کې برخه اخيستې وه او د مبارزې ترټولو مهمه مسله د کار ساعت (٨) ساعتونو ته ښکته کول وو. د لاريون کونکو په پوسټرونو کې ليکل شوى و : "8 ساعته کار ، 8 ساعته ازادي او 8 ساعته استراحت".

د ډيرى کلونو لپاره، د کار ساعت (٨) ساعتونو ته را ښکته کول وو. وروسته ،د کارګر غورځنګ د کارد هر ساعت شرايط غوښتنې او نظريات څرګند کړل.

### 1.mai-tog







*Kilde: Wikimedia*

سياسي ګوندونه او ځيني سازمانونه د ځانګړو پروګرامونو سره د دې ورځې لمانځنه کوي. د مې اوله نيټه د کارګرانو د يووالى نړيواله ورځ ،سهار وختي د غونډو او اکثرا ګډ ناري سره پيل کيږي. بيا دلته د مې اوله نيټې په اړه خبرى کيږي. هغه څوک چې د مې اوله نيټه کتار کې برخه اخلي بيرغ لري چې ښيي کومې اتحاديې پورې تړاو لري. په کتار کې د بيرغ سربيره ، پوسټرونه او شعارونه شتون لري چې په ټولنه کې اوسني مسلې منعکس کوي. موزيک - باند او سندره هم تل د مې په اوله نيټه مهمه وه.

1. mai norsk pashto

## د پیوستون نړیواله ورځ

په ناروې کې د کارګر غورځنګ او په ټوله نړۍ کې د کارګرانو لپاره، د مى اوله نیټه خورا مهمه د کلیزې لمانځلو ورځ او له سیاسي پلوه خورا مهمه ورځ ده. له هماغه لومړۍ شیبې څخه ، د مى اوله نیټه د لمانځلو نړیواله ورځ, د مبارزې ورځ او د کارګر غورځنګ د پیاوړتیا او یووالي سمبول و.دا ورځ اکثرا د یووالي پېژندلواو مبارزې په اړه خبرې کېدل. او نن یی ټوله نړۍ د کارګرو د یوالي نړیوالې ورځې په نوم پېژني او یادونه یې کوي.







*Kilde: Flickr*







*Kilde: Flickr*

*Førrstemaiplakat på arabisk. Kilde: abu_zeina, Shutterstock*